## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

**د مرکزي شورا پرېکړې یوازې د کاغذ پر مخ کربنې او د خپلو جرمونو د پټولو یوه ناوړه هڅه ده!**

د فلسطین د ازادۍ سازمان مرکزي شورا د چهار شنبې په ورځ پریکړه وکړه، چې د یهودي دولت په رسمیت پیژندنه وځنډوي او په ټولو هغو تړونونو کې د فلسطیني ادارې مکلفیتونو ته د پای ټکی کېږدي، چې د فلسطیني دولت په رسمیت پیژندلو ته دوام ورکوي. شورا د فلسطین د خلکو لپاره د نړیوال مصئونیت د برابرولو او د نړیوال قانون د پریکړه لیکونو د پلي کولو غوښتنه وکړه. د مرکزي شورا دغه پرېکړه په رام الله ښار کې د خپلې غونډې په پای کې په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلې ده. شورا د فلسطین د ازادۍ سازمان اجراییوي کمیټې ته لارښوونه کړې ده، چې د خپلو پرېکړو د پلي کولو لپاره د مناسبو میکانیزمونو پر جوړولو کار وکړي، چې د فلسطیني وګړو ستري ملي ګټې پکې په پام کې ونیول شي.

لکه څرنګه چې د ازادۍ سازمان د مرکزي شورا په پرېکړو کې رایج دي، چې یوازې د فلسطین په اړه پرېکړه وکړي، دا پریکړې یو ځل بیا د اسلام او اسلامي امت څخه د فلسطین د جلا کولو او د دې سازمان انحصار تاییدوي، چې د غرب او نړیوال استعمار سره تړاو لري.

د مرکزي شورا دغه پرېکړه نه یوازې نوې نه دي، بلکې د کاغذ پرمخ څو کلمې او متنونه دي، چې د ځمکې پر سر هېڅ سیاسي ارزښت او مانا نه لري. درې کاله وړاندې د ۲۰۱۸م کال، په اکټوبر میاشت کې هم ورته پرېکړې وشوې، چې د تصویب پر ځای پاتې شوې. نه بهر ته ولاړې، نه هم له هغه وخت راهیسې عملي شوې دي.

سوله او د قدرت موجودیت د یهودي ادارې لپاره یوازې یو پوښ دی، چې د فلسطین پر وړاندې خپل جنایي سیاستونه پرمخ وړي. د اوسني واکمن رول د فلسطین د خلکو د ځپلو او له اسلام سره د مبارزې لپاره له یهودي ادارې سره پوره ملګرتیا ده او د هر هغه غږ خاموشول دي، چې د دې سپېڅلې خاورې د ازادولو لپاره د اسلامي امت د لښکرو غوښتنه کوي.

د امنیت د همغږۍ د جرم اصلي مسوول PLO دی، چې د فلسطین اداره یې جوړه کړه. دا پریکړې او غونډې له هغه څه سره د مخالفت په توګه د ښکاره کېدو یوه ناوړه هڅه ده، چې د فلسطین او د خلکو پر وړاندې یې لومړنۍ دسیسه رامنځ ته کړه. دوی دوې دولتي پروژې ومنلې او مسلمانان یې له خپلې موخه څخه جلا کړل. دا هغه هڅه و، چې د یهودي وجود شتون یې د مشروع دولت په توګه په رسمیت وپیژانده، د اوسلو تړون یې لاسلیک کړ او د فلسطین اداره یې رامنځ ته کړه، چې د فلسطین او خلکو پر وړاندې له هېڅ ډول ظلم څخه لاس نه اخلي.

نن د فلسطين پر هيلو د تمساح اوښکې تویوي او په عین حال کې د غدار میراث د گوښه کولو پر ځای له هغه سره مینه کوي. په همدې غونډه کې دغه سازمان د امریکا د ولسمشر جوبایډن پر اداري غږ وکړ چې د دوو دولتونو د حل او د فلسطين د ځمکې پر شل سلنه برخه کې د فلسطيني دولت د جوړولو په اړه خپلې ژمنې پوره کړي. اې د فلسطين خلکو په دې پرېکړو او غونډو مه غولېږئ، ځکه چې دا له سراب پرته بل څه نه دي او ډاډه اوسئ چې د یهودي وجود له شړلو او د هغه د ریښو له منځه وړلو پرته بله حلاره نشته او دا ویاړ هغه وخت تر لاسه کولای شو، چې وسله‌وال ځواکونه مو د اشغالگرو او استعمارگرو غدارانو په لاس کې نه، بلکې د توحید تر بیرغ لاندې د فتحې او آزادۍ په لښکرو کې د مؤمنو مسلمانانو په واک کې وي، چې ډېر ژر به یې موږ ان شأالله شاهدان واوسو.

**د فلسطين په سپېڅلې خاوره کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۳ هـ.ق، د رجب ۹مه**

**۲۰۲۲م، د فبرورۍ ۱۰مه**

**د صدور گڼه: ۰۸/ ۱۴۴۳**